محمد اسحاق برکت

ویرجینیا ــ امریکا


2009 - 1 - 2

## د يــوې پــوښــتــنــې ځواب

**پرې مېږده پخپل لار سم روان یمه**

**زه خو لېونی نه یم،ځانبه لېونی کړې**

**تـــه!!!!**

ځو ورځې د مخه چا راته زنګ وواهه ، ګوشي مې پورته کړه او معمول په شان سلام مې واچاوه او ځان مې معرفي کړ. هغه سره لدې چې خپل نوم را ونه ښود، افغانی دود او دستور ته يې هم سپکاوې وکړه ـ روغبړ يې هم را سره ونه کړاو ډېر قـهرجن او په غصه تيپ ريکاردر غندې په خبرو لګيا شو. ځان سره مې وويلې:
خدای دې خير کوې، څه آسمانې تکه را باندې ولوېده؟ د روژې مياشت خوهــم نه ده چې روژه به ابا نيولې وې او زړه به په انا تسوې!
لنډه يې داچې ده زما په ليکنوکې ځينې بېځايه نيوکې درلودې او د هغو له ډلې نه مثلا ده وېلې زماپه ليکنوکې ولې (درى) لغتونه کارول کيږې؟ ولې سچه(پښتو)نه ليکم؟
ما وخندل او په ډېر درناوې سره مې ده ته وويلې: خير دی روکيه، څه تکـــه خوبه نه يې لوېدلې ـ ته خپلې ټولې نيوکې وليکه زه او نور لوستونکې به يې ولولو او څــه بــه ترې زده کړو، دا خو څه خبره نه ده ـ نه خپله څه ليکې اونه بل څوک پرېږدې؟
ما غوښتل چې له هغه سره په دغه اړوند نورې خبرې او بحث وکړم خوله بده مرغه ده ګوشې کېښوده او نور څه يې ونه ويلې، داسې ښکارې چې دی ټل له انترنيت سره لګيا دی او سايټونه وينې ـ نو اوس دې ما ته غوږ ونيسې اوڅه چې ليکم هغه دې ولولې.
محترم لوستونکيه:
دا بايد په پام کې ولرو څوک چې څه ليکې په ليکنوکې يې خامخا ځينې تېر وتې ليدل کيږې، لاملونه يې ډېر دي او هغه ټول زه نه غواړم دلته وليکم خودا چې زما په ليکنوکې(درې) لغتونه ولې کارول کيږې اړين ګڼم چې څه ووايم: دغه دواړه ژبې زموږ رسمي ژبې دي اود دوو

شریفواو نجیبو قومونو ژبه ده او ډېر ویاړم چې زه  دپلاراو مور له خوا په دغو دواړو قومونو پورې تړلی یم. د وطن تول قومـونه د(وطن بدن)غړي دي، نو ځکه پرما د وطن ټول قومونه او ژبې ګراني دي.

## د افغان له پلار او موره پیداشوي یم ،افغان یم
## تل به پایم یو افغان او تل به وایم چې افغان یم

محترم پوښتونکیه:
ژبه د پوهیدلو او پوهولو وسیله ده، د هیواد تولې ژبې او په ځانګړې توګـه ( پښتو اودري ) ژبې لکه د دوي قومونو ( پښتانه او تاجکان ) په کلونو کلونو او د پېړیو په اوږدو کې څنګ په څنګ لکه د دوو ورنو په شان ژوند کړی او د نورو قومونو سره یوځای او په شریکه له خپل ویاړلي هیواد څخه دفاع کړیدی.
د دوی کلچر او دودونو یو له بل نه اغیزمن شوي، دوی پخپلو کې ډېرې ورکړې درکړې کړیدي، د زرګونو افغانانو مور په یوه قام او پلار په بل قام پورې اړه لري ( زه خپل ځان درته بنیم ) ژبو هم یو په بل تاثیر کړی ـ ډېر لغتونه له(دري) څخه (پښتو) ته اوله (پښتو )څخه(دري) ته نقل سوي آن تر دې کچه چې اوس د دغـې ژبې یوه برخه ګرزیدلی او ډېر خلک  اوس نه پوهیږي چې دغه لغت (پښتو ) دی که (دري).
یوه بله خبره مې هېره نه شي او هغه دا چې زموږ تولې ژبې لکه د نړۍ نورو ژبو په شان له ( عربي ــ ترکي ـ انګریزي اردو او...) څخه هم متاثره سوي او د دغو ژبو ډېر لغتونه زموږ په ژبوکې ځای نیولی  او اوس د هغو یوه بـرخه ګرزېدله او دا کوم بد کار نه دی بلکې هغه یې لا پسې شتمنه کړېده او په دغـو   لغتونو اوس ډېر خلک پوهیږي، خبرې ورباندې کوي او هغه خپله ګڼي.
خبره خو هلته ورانه شي چې ډېر لغتونه موږ خپله لرو او یا دپ وهانو له خوا ډېر پخوا وضع سوي او په ټولنه کې اوس استعمالیږي، خلک په هغو پوهیږي خو په ډېر خواشینی سره ځینې خلک د ناپوهی له رویه او ځینې په لوی لاس د پردیو پــه لمسون داسې لغتونه پخپله ژبه کې داخلوي چې دهغه ورته لغتونه یې زموږ په ژبه په لویه کچه شته یا نوي غلط وضع شوي لغتونه په هغه هیوادکې (ایران)، خپلې ژبې ته راولي چې دا کار د خپلې ژبې او هیواد سره لویه جفا ده او دغه وطن پلورنکي
به نه تاریخ وبښی او نه خلک. لعنتونه دې وي په دغسې خلکو!
په ژبو کې تبعیض لویه او نه بښېدونکې ګناه ده، اوسنی ناوړین کوم چې په هیواد کې روان دی او زموږ ملي وحدت ته یې سخت زیان رسولی یو لامل یې هم لساني تبعیض دی چې د  ځینو معلوم الحالو کړیـو ( خراسانیانو؟ ) له خوا د (ایران) آخـندي رژیم په لاربښوونه او دستور په لار اچول سوېده. ښه به دا وي چې لـه دغسې تبعیضونولاس واخلواو د ملي وحدت لمن ونیسو تر څو واقعي سوکالي موبه برخه شی له ټولو عجیبه، د خندا وړاو( ایرانیانو) سره د دوی د اړیکو او جاسوسی بېلګه داده چې په سل کونو پنځوس شپېته کاله د مخه وضع شوي لغتونو کې یې دغه څو د کوتو  په شمېرلغتونه ( پوهنتون، څارنوال ، ولسوال، ښاروال او... ) غوره کړي او په دغو پسې یې پایڅې او لستونې بډ وهلي او لګی ادي او مظاهرې کوي چې موږ دغه نومونه نه منو چې په موږ له آسمانه تندر لویږي ـ موږ( دانشګاه ، تیمارستان،شهرداري او ...)غواړو او پلمه یې داده چې (ما در پوهنتون درس خوانده نمیتوانیم !!!) نو بیا ګورئ چې د ( سترجنرال، مارشال ، ډګرجنرال او...) په مقابل کې دوی هېڅ حساسیت نه لري او نه وایي چې موږ ( سرلشکر، ارتشبد، سپهبد، سرهنګ ، سرګرد او...) غواړو، دا ولې؟ دا ځکه چې په دغـوکې ډېری د دوي جـنرالان دي  او د (خراسانیانو؟؟ ) ډله ده چې پخپل زړه او پخپل فرمان یې رتبې اخیستي او که څوک دغه نومونه پرې کېږدي څوک

به يي ونه پېژني او د دوی به(ډپ اوسامانه) ورکه شي له دوی نه به (فېشن او درشن) ورک شي څکه چې دوی په دغـــــو پسې جهاد؟؟ کړی دی؟. يا للعجب !

**يادونه :**

دلا زيات معلوماتو تر لاسه کولو په موخه د پياوړي ليکوال او ژب پـوه انجـنير خليل الله معروفی مقالاتو ته په ځانګړي ډول دهغه (ورودلغات بي مورد وناباب در زبان دری) ـ برلين ـ ۱۷ اګست ۲۰۰۵ مقالې ته مراجعه وګړئ.